## د سایبري درغلیو، جعلي ویب‌سایټونو او د بهرنیو زده‌کړو د فریبکارۍ په اړه د سایبري امنیت عامه پوهاوي پیغام

درنو هېوادوالو ته خبر ورکول کېږي چې په دې وروستیو کې د **سایبري درغلیو او انلاین فریبکارۍ** پېښې د پام وړ زیاتې شوې دي. یو شمېر کسان او ډلې د **جعلي ویب‌سایټونو، دروغجنو لینکونو او تقلبي انلاین پاڼو** له لارې، چې ځانونه د تولیدي پلورنځیو، سوداګریزو شرکتونو، خیریه بنسټونو او د انلاین خرڅلاو مرکزونو په نوم معرفي کوي، خلک تېر باسي او مالي زیانونه ورته اړوي.همدارنګه، ځینې فریبکاران د **بهرنیو هېوادونو د زده‌کړو، بورسونو، پوهنتونونو او ویزو** په نوم اعلانونه خپروي، د اسنادو برابرولو، تضمین شوي داخلي او چټکو ویزو ژمنې کوي او له خلکو څخه پیسې اخلي. له بده مرغه، یاد اعلانونه اکثره **بې‌بنسټه، جعلي** او غیرقانوني وي او د خلکو پیسې نامعلومو حسابونو ته انتقالېږي.

### عام سکیمونه او د فریب طریقې:

- جعلي ویب‌سایټونه چې د اصلي شرکتونو بڼه لري
- لینکونه چې د تخفیف، جایزو یا عاجلو وړاندیزونو ادعا کوي
- د بهرنیو تحصیلي مؤسسو په نوم جعلي ایمیلونه او پیغامونه
- د تضمین شوې ویزې، چټک داخلي او غیرواقعي بورس ژمنې

### د ځان ساتنې لپاره مهمې سپارښتنې:

1. د هر ډول انلاین معاملې څخه مخکې د ویب‌سایټ **رسمي ډومېن، د اړیکې معلومات او قانوني ثبت** په دقت وڅېړئ.
2. له هغو اشخاصو او ادارو سره معامله مه کوئ چې یوازې د ټولنیزو شبکو له لارې اړیکه نیسي او رسمي اسناد نه لري.
3. هېڅکله خپل شخصي معلومات، بانکي کارتونه، رمزونه او د تایید کودونه له بل چا سره مه شریکوئ.
4. په هغو اعلانونو باور مه کوئ چې د **تضمین شوې ویزې، سل په سلو کې بورس او یا ډېر ژر بهر ته د تګ** ژمنه کوي.
5. د بهرنیو زده‌کړو په برخه کې یوازې د **رسمي دولتي چینلونو، پېژندل شوو پوهنتونونو او باوري مؤسسو** له لارې اقدام وکړئ.
6. که د انلاین درغلیو یا تحصیلي فریبکارۍ له پېښو سره مخ کېږئ، موضوع له اړوندو امنیتي او مسؤولو ادارو سره شریکه کړئ.

.سایبري امنیت او عامه پوهاوی د ټولنې ګډ مسؤلیت دی

.په هوښیارۍ او احتیاط سره کولای شو خپل ځان، خپل اولادونه او خپل هیواد د سایبري جرمونو او فریبکارۍ څخه وساتو

په درناوي

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت

د سایبری امنیت ریاست